مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسورودان ۲۰۲۶/۰۱/۱۹

# فریحه نقوي ته د علي زریون لیک

۵ جنوري ۲۰۲۳
السلام علیکم فیهي!
څنګه یې؟
پوهېږم، د تل په څېر به د خپلې زوکړې په ورځ ظاهراً موسکې یې، خو دننه اندرون کې به ډېر لړې د غم په معبد کې دردمنه ناسته یې!
زه په بحرین کې یم، باران وریږي، چارپاپېره غم دی، شعر واوره:
ستارې نې مجھ سې نئی نظم سن کر کہا! خیر هې نا؟
مین خاموش تها اور سیارې په بارش بهت هو رهی تهی!
له پرون راهیسې مې ډېره یادېږې، له عادي ورځو زیاته. پرون شپه مې چې ۱۴ دقیقې دپاسه ۱۲ بجې د کلیزې د مبارکۍ پیغام درلېږه، پوهېدم چې اړیکشمېره به دې بنده وي. ته هسې هم له ګڼې ګوڼې ډارېږې او نن خو به له خپل ځانه هم خبره نه یې!
څومره ډېر شیان شته چې لیکل کېدلی شي، ویل کېدلی شي، ستا په اړه که کوم نظم وي یا عامه خبره زه یې سوچ کولو ته نه اړ کېږم، بس راياده شي او د رنګونو ساز پیل شي.
زما ملګرې! زما خورې! زما فیهي!
د باور په وسایلو او د موجوده اخلاص په قرینو کې تر ټولو معتبره حواله یې!
په ژوند کې به مې حتماً کوم ښه کړي وي، چې ته زما ملګرې شوې. د مرشد خبره مې یاده شي، چې ویل به یې: د دوست مطلب وي، چې کله (دو ست) یعنې دوه رښتیا سره یوځای شي، یو دوست ترې جوړېږي.
ته هماغه رښتیا یې فیهي!
زه بې اندازې مینه درسره لرم، هر وخت مې یادېږې، په زړه مې یې او بې حده غوسه مې دربانديې راشي.
ډېر ډېر پام درباندې کوه. همدا یوه ګیله درنه لرم چې هرې اړیکې ته تل حاضره یې، خو ځان ته هېڅ پام نه کوې!
نن ستا کلیزه ده! فکر مې وکړ خط درته ولیکم او مبارکي درکړم.
او هو... نن زما مشاعره هم ده. لنډو شېبو کې هلته ور روانېږم. (ان شاء الله)
ښاده اوسې!
رب دې سلامته لره!
الهي امین
علي!

### د علي زریون لیک ته د فریحه نقوي ځواب

(ایله د یار یم یاده شوې نن)
علي!
زما د زوکړې په ورځ دې دومره زړه وړونکی خط راته لیکلی، چې څو ځله مې ولوسته. دنیا پوهیږی چې زموږ مینه او ملګرتیا څومره پخوانۍ او بې زواله ده! موږ به په تېرو ۱۰ کلونو کې ۱۰۰ ځله جګړې کړې وي. (نوې ځله ما) ځکه چې دواړه شدید جذباتي یو او د جذباتو حل نو کله شته؟
ما بې شمېره ځله دریځ درسره شریک کړی، خو کله مې هم ځان ستا برابر څه چې، کشره هم و نشو بللی. په ۲۰۱۳م کال کې د مینه والي په توګه راغلې وم او تر اوسه هماغه یم. (له پخوا نوره هم زیاته.) ځکه هیڅوک ستا په څېر کېدلی نشي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ته هغه لومړی شخص او انسان وې چي راته ودي ویل: شاعري دي خپله کړه! له کوم ډار پرته یې نشر کړه! که نه زه خو په خپله دنیا ورکه وم. شعر مي وایه، ډایري کي مي لیکه او الماری کي مي پټوه. زما هغه غزل هم یاد دی چي تا مي په وال لیدلی و، ودي ویل: څه! چي څو نور بیتونه هم پسي جوړ کړو. ما فکر کاوه چي ګوري زه شعرونه خپله وایم او که...؟! بیا موږ تر ماښامه پوري ۵۰، ۶۰ بیتونه یوځای وویل.
زه به ستا في البدیهه شعري صلاحیت ته حیرانه شوم. په خدای قسم تر ننه مي داسي بل شاعر و نه لیده چي یو دم کیني، تخیل کي بل جنس اختیار کړي او څو دقیقو کي ۲۰ بیتونه په دومره رواني ولیکي، لکه کوم جادو. ما د خپلو سترګو په وړاندي داسي شدید نظمونه او شعرونه لیکل کېدونکي لیدلي چي څوک به باور هم پري ونکړي. داسي بل چیرته ممکنه نه ده، یوازي علي یې کولی شي.
دا ځیني خلک، دا سطحي خلک، چي کله خبري کوي: (دا شعر دی؟!، دا شاعري ده؟! په ادب داسي شوي او هاسي شوي!)
دوی په څه خبر؟!
بس په کومه تخته یې د اقبال څو شعرونه او د جګجیت سینګ له خولې د غالب دوه بیتونه غلط یاد کړي، خو نظر داسي ورکوي لکه ښه معتبر او مستند ادبي خلک چي وي. دوی څه خبر چي ته څوک یې؟ څه یې؟ ته جادوګر شاعر یې! داسي جادوګري ما په ټول ژوند نه ده لیدلي. کوم خلک چي خپلو مجلسونو کي تا نقدوي، هغوی خپله هم زړه زړه کي ستا هغه مقام او مینه غواړي چي ښښتن تعالی دې په برخه کړې ده.
خبره له شاعري ځکه پیل شوه چي زه لومړی ستا مداحه یم! شاعري زموږ لومړی رشته ده. ته د شاعري له سوبه زما زړه ته راغلي. ما تل همدا محسوسه کړي چي زړه دي ډېر مینناک او خالص دی.
پوهېږم چي زموږ ځیني عادتونه مختلف دي:
ته تېز ګام او زه سست رو یم!
ته زړه راښکونکی او زه زړه تنګوونکي یم.
ته اواز یې او زه خاموشي یم.
ته خلک ګټې او زه بزدله تښتم.
خو ډېر شیان راکي مشترک هم دي:
موږ دواړه په یو بل ځان قربانوو.
موږ دواړه شدید حساس یو.
موږ دواړه فوراً خفه کیږو او ژر بېرته پخلا کیږو.
موږ دواړو چي د یو بل تکلیف واورو، نو سملاسي ولړزیږو.
موږ دواړه خودغرض او سوځېدونکي یو.
موږ دواړه په خپل ساز کي مست یو.
موږ دواړه له یو بل سره ورځي ورځي خبري کولی شو.
موږ دواړه په غم و درد کي له هر څه وړاندي یو بل لټوو.
موږ دواړه سراپا مینه او عجز یو.
زموږ دواړو کراچي خوښه ده.
او نور لا څومره شیان...
کله څه بوخته یم، کله ته.
کله کله له انتظاره ستړي شو، سره خفه شو. خو پوهیږو چي زموږ زندګۍ موږ پوري د ټرلو زرګونو خلکو لپاره دي. زموږ انرژي او وخت له هغوی سره مصرف شي. خو زموږ زړونه... زړونه مو تل له میني ډک وي.
تا سره چي کومه اړیکه لرم، له ټولي نړۍ مختلفه او لا زواله ده!
جګړي، شکوې، شکایتونه، عقیدت، احساس، مینه او بي اندازي خوږلنتیا... په دې رشته کي هر څه شته.
او ته هر څه یې!
ژوند اوسې!
همداسي په نړۍ راج کوه.

## فریحه نقوي ته د علي زریون دوهم لیک

فیهي!
زه چي کله هم غمجن شم
یا ځان ستړی محسوسم، نو راشم، ستا دا ځواب ولولم او یو نوی طاقت واخلم.
یادېږې مي! له زیات هم زیات...

ژباړه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ